مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۱/۰۵

# د حسن سکه

**تا ته، ستا حسن ته سپوږمۍ زړه تنګې**

**د حسادت اور کې يې ځان وسيځه**

**شا و خوا کلی، چم ګاونډ او خلک**

**د تا د حسن خزانې نه لا خبر هم نه دي**

**ښه، نا خبره دي وي**

**د تا د حسن د سکې په ارزښت**

**سپوږمۍ خبره ده**

**او زه خبر يم**

**هغې خو ځان وسيځه**

**زه دې په مينه کې ګلزار، ګلزار يم**

**او ستا د حسن سکه زړه کې ساتم**

**ځکه شتمن تر ټولو خلکو يمه**

۲۰۱۷/۱۲/۱۱
هيدرسليف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ